لیکوال: شریف بهاند ۱۷ .۳ .۲۰۰۸

# د کوزوو خپلواکي
# د ازادۍ په نامه د ازادۍ له منځه وړل
( لومړۍ برخه )

په دې لیکنه کې به لاندني ټکي ولولي:
- پیلامه؛
- **د مکیندر** او **بریژینسکی له نظره د اروآسیا**Eurasien **جیوپولیتکي ارزښت؛**
- **بنستیزه موخه، د روسیې د فدراسیون ړنګیدل او**
- **په اروآسیا کې د مچیو چالي (کوزوو، آبخازیا، اوستیا او پریدنسرویه).**

## پیلامه:
په داسي حال کې چې د نړیوالیدو د پروسې په بهیر کې د ملی دولتونه بنستیز رول، ستري نړیوالي کنسرني په غاړه اخلي او جغرافیوي پولي د له منځه تلو او یوه بې پولو نړۍ د رامنځته کیدو په حال کې ده، خو سره د هغه هم ستر اقتصادي – پوځي ځواکونه د خپلو ستراتیژیکو ګټو د ترلاسه کولو، د نوي سیال ځواک د رامنځته کیدو د مخنیوي او یا هم له پخوانیو دبمنو او سیالو هیوادونو ځخه د رخې د اخیستني په موخه د هغو د ویش په هڅه کې دي، چې ښه بیلګه یې د اروپا په وچه کې د پخواني یوګوسلاویا فدرالی دولت دئ. له دغه فدراسیون څخه په کال ۱۹۹۱ د لس ورځني جګړې په ترځ کې سلوانیا، د۱۹۹۱ ـ ۱۹۹۵ کلونو جګړو په بهیر کې کرویشیا د ۱۹۹۲ –۱۹۹۵کلونو جګړو په ترځ کې بوسنیا هرځیګووینا جلا او د نړۍ د نورو هیوادونو او نړیوالو سازمانونو له خوا د خپلواکو هیوادونو په توګه په رسمیت وپیژندل شول (وګورئ: Der Balkankonflikt, Geschichte, Parteien). د۱۹۹۶ ـ ۱۹۹۹کلونو تر منځ د یوګوسلاویا په سویلی ولایت، کوزوو کې خونړۍ جګړې پیل شوې، چې دغه جګړې په کال ۱۹۹۹ کې د ناتو د پوځي سازمان په یرغل او د ملګرو ملتونو (م. م.) د امنیت د شورا د ۱۲۴۴پریکړه لیک په تصویب سره پایته ورسیدې. په دې پریګړه لیک سربیره پر دې:

۱ ـ د صربستان او مونته نګرو* د جمهوریت زمکنۍ بشپړتیا تضمین شوه؛

* د مونته نګرو سیمه هم د هغې تولپوښتنې له مخې، چې د ۲۰۰۶ کال د مۍ د میاشتې په یوویشتمه نیټه تر سره شوه، له صربستان څخه جلا او د همدې کال د جون په دریمه خپله خپلواکي اعلان او د نړۍ د هیوادونو له خوا په رسمیت وپیژندل شو.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

۲ – د دغه جمهوريت سويلی ولايت، کوزوو د م. ملتونو د سازمان تر ساتني (پروتکتورات) لاندې ونيول شو؛
۳– د م. ملتونو عمومی منشی ته دنده وسپارل شوه، د کوزوو د سيمي له پاره يوه انتقالی ملکی اداره جوړه او هغه بايد پارلمانی ټاکنو ته شونتياوې برابرې کړي؛
۴ – خو په بريکړه ليک کې د کوزوو راتلونکی حقوقی برخليک ته نغوته نه ده شوې او دغي سيمي ته بايد د دواړو خواوو (سرستان او کوزوو) په پوهاوی او هوکړې او يا هم د م. ملتونو د امنيت د شورا د نوې پريکړې پر بنسټ د حل لاره وموندل شي ( وګورئ: Peter, Strutynski, AG Friedensforschung). خو بلګراد او پريشتنا د م. ملتونو د څانګړو استازو، په تيره مارتي اهتيساری له هاند و هڅو سره سره، و نه شو کړي، د څو کلونو په بهير کې د کوزوو دغي ستونزې ته د حل کومه لاره ومومي.
نو څکه د صربستان د دغه سويلی ولايت، نوی ټاکل شوی پارلمان د م. م. د امنيت د شورا د ۱۲۴۴پريکړه ليک او د نړيوالو قوانينو له پام کې نيولو پرته، د متحدو ايالتونو د دولت او د اروپايي ټولني د ځينو غړو هيوادونو د ټينګار او اغيز پر بنسټ، د ۲۰۰۸ کال د فبروری په ۱۷ نيټه د دغي سيمي د خپلواکۍ د اعلانولو پريکړه وکړه. اوس ډير خانګيز ځيرونکي دا پوښتنه مطرح کوي، چې د کوزوو د خپلواکۍ اعلان په رښتيا هم د بالقان په سيمه، په تيره په خپله کوزوو کې د ميشتو قومي او مذهبي لړکيو په وړاندې د زور زياتيو، ناخوالو، بيعدالتيو او بې رحميو له منځه وړل او دوي ته د رښتني ازادی د ورکړې په مانا ده؟ او که د هغه تر شأ نور څه نغښتي دي. څکه د دغه نوی رامنځته شوی دولت د پارلمان په تصويب شوي پريکړه کې ځيني داسي محدوديتونه په پام کې نيول شوي دي، چې د يوه رښتني خپل واک دولت حقوقی برخليک تر پوښتني لاندې راولي. د بيلګي په توګه:

- د کوزوو هيواد د ملی دفاع او د بهرنيو چارو د وزارتونو د رامنځته کولو حق نه لری؛
- دغه هيواد به د نړيوالو سازمانو يا په روښانه توګه د اروپايي ټولني تر ساتني (پروتکتورات) لاندې وي؛
- په دغه هيواد کې به د نړيوالو سازمانونو (د اروپايي ټولني) څارنکی له بې ساری صلاحيت څخه برخمن وی؛
- د کوزوو هيواد او يا د هغه يوه برخه نه شوی کولی له بل هيواد سره يو ځای شي؛
- د ميشتو قومي او مذهبي لړکيو په څانګړې توګه د صربانو احترام به کوي (وګورئ: د کوزوو خپلواکي رسماً اعلام شوه. د بی، بی، سی ريوټ، ۱۷، ۲، ۲۰۰۸).

پورتني محدوديتونه په خپله د دې ښکارندوي دي، چې کوزوو ته يوازې تش په نامه خپلواکۍ ورکړې شوې يا په بله وينا د ازادیٔ په نامه ازادی له منځه وړل شوې. نو پوښتنه دا ده، چې د متحدو ايالتونو بنسټيزه موخه له دغي کړنې څخه څه ده؟ او اروپايي ټولني څه ترلاسه کړ؟ ايا د متحدو ايالتونو د دولت موخه دا وه، چې د کوزوو پر سر اروپايي ټولنه د بهرنی سياست په برخه کې کمزورې کړی او يا دا چې په ختيځه اروپا کې د روسيي د فدارسيون وروستي احتمالی اډه له منځه يوسي؟
ښه به دا وي د ستونزې د زړی د راوسپړو له پاره يو څه شأ ته نظر واچوو او له تيرو تاريخي تجربو څخه په زده کړې سره، دغو پوښتنو ته ځواب ومومو.
نولسمه پيړی نه يوازې د مريتوب د له منځه تلو، بلکې د زبيناک او ښکيلا ک د پراختيا هغه هم وه. په دغې پيړی کې د وخت سترو ځواکونو د مستعمرو له ښکيلاک او تالان سربيره د خپلو ستراتيژيکو ګټو په موخه، د هيوادونو د طبيعي پولو تر منځ بدلون رامنځته او ان د خپل اعتماد وړ خلک د دوي په خوښه او په ځينو سيمو کې دې ته اړ کړل، چې له خپلو اصلی ټاټوبی څخه د لړکيو


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

په توګه نورو سیمو ته ګډوال شي. سترو ځواکونو دا ډول کړنې په داسي تګماري او د لرلید (دوراندیشی) له مخې تر سره کړي، چې د وخت په تیریدو سره هغه په داسي ناسور تپ اوښتي دي، چې د هغه حل اوسمهال څه نا څه ګران کار بریښي. د دا ډول کړنو تر ټولو ښې بیلګې د ښکیلا ک په پړاو کې د افریقا په وچه او د لومړي او دویمي جګړې په ترڅ کې د اروآسیاEurasien په سیمه کې په روښانه توګه تر سترګو کیږي. د متحدو ایالتونو د دفاع د وزارت د وسله والو ځواکونو افسر، رالف پیترز Ralph Peters د افریقا، نږدي او منځني ختیځ په ستراتیژیکو سیمو کې د دا ډول مصنوعي او غیر منصفانه پولو رامنځته کیدو ته داسي نغوته کوي او په دې باب وایي: "د افریقا د دغو غیرمنصفانه پولو په شأ و خوا کې تر اوسه په میلیونونو خلکو خپل ژوند له لاسه ورکړي او دغه بهیر لا دوام لري. خو له افریقا پرته دغه ډول تر ټولو غیرمنصفانه پولې ... په منځني ختیځ کې رامنځته شوي دي، چې له ګټو څخه یې زیان ډیر دئ"(Ralph Peters, ۲۰۰٦, S. ۱).
په حقیقت کې د مصنوعي پولو دا ډول رامنځته کول نه یوازې په افریقا، نږدي او منځني ختیځ او همدارنګه د بالقان په سیمه، بلکي هر چیرته د تاریخ زیږنده او د پوځي - سیاسي ځواکونو تر منځ د انډول (توازن) د رامنځته کولو یوه وسیله وه او لا ده. د بیلګي په توګه په منځني ختیځ کې د بریتانیا حکومت د باالفور د اعلامیې [Balfour -Deklaration](#) له مخې د خپلو سیاسي او اقتصادي موخو د ټینګښت له پاره د فلسطین په سیمه کې د اسراییلو د دولت بنسټ کیښود، په ۱۹۱۸ کال کې صربستان او رومانیې په لومړي نړیواله جګړه کې له متحدنیو څخه د ملاتړ په بدل کې ونج (پاداش) ترلاسه کړې. په سیمه کې د لږکیو لکه ګورانیو، روتنو، ارمانیو، ترک، اشکالی، مصری او داسي نورو د حقوقو په تر پښو لاندې کولو سره، صرب پاچا، پتر کره جرجوویچ Peter I. Karadjordjevic ته د کرویشیا او سلوانیا سیمې ور ډالي شوې او بخارست هم د ستري رومانیې په خوب او خیال کې ډوبه شوه، ... او د نړۍ د ځینو نورو سیمو برخلیک هم په همدې ډول و.
د دریمي زریزې په پیل کې هم دا پوښتنه رامنځته کیږي، چې په اصطلاح متمدن، دیموکراتیک، د ولسواکۍ او قانون پر بنسټ ولاړ ستر ځواکونه، په ریښتیا په نړۍ کې د مصنوعي او غیر عادلانه پولو او د ملي او مذهبي لږکیو په وړاندې د زورزیاتیو او بې عدالتیو له منځه وړل غواړي؟ او که د دغو نوو پولو او رامنځته شوو دولتونو له لارې بیا هم په غیره مستقیمه توګه د نړۍ د اوسنیو شرایطو په پام کې نیولو سره، د تیلو، ګازو او د هغوي په نل لیکو، د نورو اومه طبیعي توکو پر پاتي زیرمو او داسي نورو توکو د لیږدولو د لارو د کنترول د ترلاسه کولو هاند و هڅه کوي؟ او یا دا چې د پخوانی سیال ځواک د روسیې د فدراسیون د محاصرې د بشپړولو خیال په سر کې لري او د نوی هغه د رامنځته کیدو د مخنیوي په لټه کې دي؟ نو ښه به دا وي، دې پوښتنو ته ځواب د سترو اقتصادي – سیاسي او پوځي ځواکونو په جیوپولتیکي ستراتیژیو او د ستراتیژیکو سیمو په پریوت کې ولټول شي.

## د اروآسیاEurasien جیوپولیتکي ارزښت؛
## د مکیندر هارتلند او د بریژینسکی د سطرنج تخته:

د سیاسي جغرافیې د پوهانو په اند، د سترو ځواکونو کړه وړه په ځانګړې توګه د جغرافیوي چاپیریال له عواملو، په تیره پریوت څخه اغیزمن دي. نو ځکه اړینه بریښي، چې انسان د بریاوو د ترلاسه کولو په موخه ځان له چاپیریال سره همغږی (هماهنګ) کړي، لکه څنګه چې ګیاوو دا څه تر سره کړي دي. د جغرافیې د همدې ارزښت له امله و، چې هغې د بریتانیا د تاریخ او فلسفې په ځانګو کې ځانګړی ځای ترلاسه کړ. ځکه بریتانیا د وخت د ستر ځواک په توګه، د نړۍ څه نا څه دیرش میلیونه متر مربع زمکه تر خپل نیواک لاندې راوستې وه او د وخت د نړیوال نظم د رامنځته کولو له


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

پاره یي د بیلا بیلو سیمو چاپیریال پیژندنې ته اړتیا درلوده، چي د هغه په مرسته وکړي شي په اوږدمودیزه توګه خپلي ستراتژیکي ګټي خوندي کړي. په دې برخه کي د نورو څانګیز پوهانو ترڅنګ تر ټولو د سېر هلفورد مکیندر Sir Halford Mackinder نظریه د پام وړ ده. مکیندر هڅه کړي، چي د نړی د یوه ملت یا سیمي د جغرافیوي پریوت او د هغه یا هغې د سیاست او درېځ تر منځ اړیکي روښانه کړي. د نوموړی په اند، د جغرافیوي ځواک (وچه او سمندر) موازنه د بدلون په حال کي ده. سمندري ځواکونه به په راتلونکي کي له ستر ګواښونو سره مخامخ شي. ځکه په وچه کي د ترانسپورتي بنسټونو (زیربنا) په پرمختیاوو سره سمندرې برترې خپل ارزښت څه نا څه له لاسه ورکوي. مکیندر د دوو ډولو ځواکونو تر منځ توپیر کړی او هغه هم:

- سمندري ځواکونه لکه بریتانیا، متحده ایالتونه او چاپان؛
- د اروواسیاEurasien د وچي ځواکونه، چي د ګاډیو له پرمختیا راپېځوا دا ځواک وړ په برخه دئ، پرته له دې چي په سمندر پوري تړلتیا ولري، یوه ستره سیمه په یوه دولت کي سره یوه کړي، (وګورئ: Engdahl, F. William, ۲۰۰٦, S. ۷).

مکیندر د اسیا، اروپا وچي او د منځنی ختیځ سیمه د نړی ټاپو بللی او د هغې مرکز یا کلي (کلید)، د هارتلند Heartland په نامه او د هغه شأ و خوا هیوادونه دي ریملندRimland په نامه یادوي، چي هم په وچه کي د نړی تر ټولو ځواکمن پلی ځواک او هم سمندرونو ته لاره لري. نوموړی په دې باور و، چي د اروواسیا په سیمه کي هارتلند او ریملند بنسټیز ارزښت لوبوي. مکیندر ویلی و، له لومړي نړیوالي جګړې وروسته د بریتانیا د نړیوالي امپراتورۍ د برترۍ رمز به په دې کي نغښتي وي، چي د ختیځي اروپا- پولند، چکسلواکیا، اتریش – هنګری – او د اروواسیا د هارتلند د سیمي، چي مرکز یي روسیه ده، د ګټو له یووالی څخه مخنیوي وکړي. همدا لامَل و، چي نوموړي د ورسای Versailler د سولي د خبرو اترو په ترڅ کي خپل نامتو نظر په لاندي ډول وړاندي کړ:

- "هر څوک چي پر مرکزی اروپا واکمن وي، هغه د هارتلند حاکم دئ؛
- څوک چي پر هارتلند واک چلوي، هغه د نړی پر ټاپو واکمن دئ؛
- څوک چي د نړی په ټاپو واکمن وي، هغه نړی کنټرولوي" (Engdahl, F. William, ۲۰۰٦, S. ۸).

د اروواسیا د سیمي د دغه ارزښت له امله، مکیندر په خپلو څیړونو او ویناوو کي د لویدیځي نړی هیوادونو په تیره بریتانیا ته سپارښتنه کوله، چي هغې ته ځانګړې پاملرنه وکړي. د همدې لامَل پر بنسټ، د لویدیځي نړی دولتي مشران له ډیرې مودي راپېځوا په دې هڅه کي دي، چي د مکیندر په اصطلاح د نړی ټاپو د هغه له مرکز، روسیي سره تر خپل کنټرول لاندي راولي. په همدې موخه په کال ۱۹۴۷ کي جورج کنان د "آقای ایکس" تر مستعار نامه لاندې، د شوروی اتحاد د پراختیا د مخنیوي په اړه سیاسي اصول، د فارین آفیر Foreign Affairs په مجله کي خپاره کړل، له همدې وخت څخه راپېځوا د امریکا د متحدو ایالتونو بهرني سیاست په بنسټیزه توګه سیال ته د محدودیتونو د رامنځته کولو ستراتیژۍ ته ځانګړي شو. د دغه سیاست بنسټیزه موخه " نه یوازي د شوروی اتحاد محدودول، بلکي په سره جګړه کي د بشپړو بریاوو ترلاسه کول و" (Wagner, Jürgen, ۲۰۰۳, S. ۳٦)، چي متحدو ایالتونو ته دغه بریاوي وړ په برخه هم شوی.

سربیره پر مکیندر د متحدو ایالتونو د پخواني ولسمشر، جیمی کارتر د ملی امنیت سلاکار، زبیګنیو بریژینسکی هم د اروواسیا د سیمي په باب ویلي:"هر هغه څوک چي د اروواسیا [سیمي] تر خپلي ولکي لاندي ولري، نو بنایي د نړی د تر ټولو پرمختللو او له اقتصادي پلوه اغیزمنو سیمو له دریوو څخه پر دوو باندې واک وچلوي. یوازې نقشي ته نظر اچول دا روښانه کوي، چي پر اروواسیا باندي کنټرول څه نا څه په اتوماتیک ډول پر افریقا باندي کنټرول هم دئ" (Brzezinki, Zbigniew, ۲۰۰۳, S.

٥٤). ... ځکه نو "اروا‌سیا د سطرنج هغه تخته ده، چې پر نړۍ باندې د راتلونکې برلاسی (تفوق) له پاره لوبه پرې تر سره کېږي" ( Brzezinki, Zbigniew, ٢٠٠٣, S. ٥٧).
ځکه د اروا‌سیا په سیمه کې د روسیې پر فدراسیون سربیره د هند او د چین ولسی جمهوریت په څېر داسې مهم هیوادونه پراته دي، چې نه یوازې له ستراتیژیک پلوه مهم دي، بلکې د دې ډول سیاست فعال لوبغاړي هم دي." په همدې سیمې کې پریکړه کېږي، چې آیا د روسیې فدراسیون به د نړیوال ځواک په توګه خپل دریځ بیرته ترلاسه او چین به وکولی شي، دغه دریځ ته ځان ورسوي او که نه؟ ځکه دغه دواړه هیوادونه په سیمه کې فعال جیوپولیتیک پلې کوي او په احتمالی توګه د امریکا د متحدو ایالتونو له برابرو سیمه ییزو سیالانو څخه ګڼل کېږي. ځکه نو متحدو ایالتونو دغه دواړه هیوادونه تر خپلې ځانګړې پاملرنې لاندې نیولې دي" (Mayer / Schmid, ١٩٩٩, S. ٢٣).
له پورتنې شننې داپه ډاګه کېږي، چې د امریکا د متحدو ایالتونو ستره موخه د اروا‌سیا پر سیمې کنترول او په هغې کې د برلاسی تر لاسه کول دي. خو متحده ایالتونه په سیمه کې د روسیې فدراسیون اقتصادي پیاوړتیا او سیاسي اغیز د خپلو موخو له پاره یو ستر ګواښ بولی. ځکه نو دغه هیواد له هر ډول شونتیاوو څخه په ګټه اخیستنې سره په دې هڅه کې دئ، چې په سیمه کې د روسیې د فدراسیون اغیز لا څه چې هغه په خپله ډېرې وړې کړي او د خپلې برلاسی له پاره شرطونه چمتو کړی.

پاتې نور بیا


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de